قرآني بيان

# وعده پوره کرئ!



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد
(دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 17 اپريل، کال 2026ء (بمطابق: 28 شوال شريف، کال 1447ھ)
د جُمعَةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

په 17 اپریل، کال 2026ء (بمطابق: 28 شوال شریف، کال 1447ھ) د جُـمعَـةُ الـمبارک

## قرآني بیان

په نوم

# وعده پوره کړئ!

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د پوهه کولو ښکلے انداز
- ...نِعمت یادول عِبادت دے
- ... په سکون سره د ژوند تیرولو نُسخه
- ... وړومبے دُنیا که وړومبے دِین...؟

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُود شريف فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ كُلَّ يومٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَكُلَّ لَيْلَةٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ حُبًّا وَّشَوْقًا اِلَيَّ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ اَنْ يَّغْفِرَ لَهٗ ذُنُوْبَهٗ تِلْكَ اللَّيْلَةِ وَذٰلِكَ الْيَوْمَ۔

**ترجمه:** چا چې په ورځ او شپه کښې په ما باندې د شوق او محبت په وجه درې درې کرته دُرُودِ پاک ولوستو په الله پاک باندې حق دے چې د هغه د هغۀ د هُغه ورځې او د هُغه شپې ګناهونه معاف کړي۔ [1]

برسے گی رحمتِ شہِ ابرار بالیقیں
مٹ جائے گا گناہوں کا کاجل، درود پڑھ

ان کی ہی بارگاہِ مُنَوَّر میں صبح و شام
کونین میں ہیں سب سے جو افضل، درود پڑھ

دنیا کی الجھنوں سے ملے گی تجھے نجات
گر چاہیے نجات مسلسل درود پڑھ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَوْفُوْا بِعَهْدِيْٓ

اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ ۚ وَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ﴿۴۰﴾ (پاره: 1، سورۂ البقرة: 40)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

[1] ...کتاب الصلاة على النبی، باب الصلاة على النبی عند الصباح...الخ، صفحه:28، حديث:62۔

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے د یعقوب اولاده! یاد کړئ زما هُغه اِحسان چې ما پهٔ تاسو کړے دے او زما وعده پوره کړئ زهٔ به ستاسو وعده پوره کړم او صرف زما نه ویریږئ۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بني اِسرائیلو تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ❁ حضرت یعقوب عَلَیْهِ السَّلَام د الله پاک نبي دے ❁ د حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام نمسے دے ❁ د هغوئي 12 ځامن وو، یو حضرت یُوسُف عَلَیْهِ السَّلَام او 11 د هغوئي ورونړه ❁ د حضرت یعقوب عَلَیْهِ السَّلَام یو لقب اِسرائیل هم دے، ځکه د هغوئي اولاد ته یعنې د هغوئي 12 ځامنو، بیا وړاندې چې د هُغه 12 کوم اولاد راچلیږي، هُغه ټولو ته بني اِسرائیل وئیلے شي،[1] بني اِسرائیل د خپلې زمانې ډیر د فضیلت والا قوم وو ❁ د حضرت یعقوب عَلَیْهِ السَّلَام نه پس د حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام پورې کم و بیش ټولو نبیانو پهٔ بني اِسرائیلو کښې تشریف راوړے ❁ پهٔ 4 لوئي اسماني کتابونو کښې 3 کتابونه: ❁ تورات ❁ زبور او ❁ انجیل، هُم د بني اِسرائیلو د پاره نازل شوي ❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ظاهري ژوند مبارک کښې هم بني اِسرائیل موجود وو او پهٔ مدینه منوره کښې هم اوسیدل، اوس هم ځائے پهٔ ځائے موجود دي۔

مونږ د وړومبۍ سیپارې، د سورهٔ بقره آیت: 40 د اوریدو سعادت حاصل کړو، د دې آیت مبارک نه واخله د وړومبۍ سیپارې د اخره (یعني د آیت: 141) پورې پهٔ څه کم یا زیاتو102 آیتونو کښې بني اِسرائیلو ته خطاب دے ❁ هغوئي ته د ایمان قبلولو دعوت ورکړے شو ❁ پهٔ هغوئي باندې چې کوم د الله پاک انعامونه وشول او د هغې پهٔ مقابله

---

[1] ...تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:40، جلد:1، صفحہ:328 خلاصةً۔

کښې چې هغوئي کومې ناشُکرۍ اوکړې، کوم جرمونه چې يې اوکړل هغه هغوئي ته راياد کړے شول او ❀ دعوت ورکړے شو چې اوس تاسو ټيک شئ! او زمونږ د خوږ نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کلمه ولولئ او په دُنيا او په اخرت کښې عزت ومومئ--!! د قرآنِ کريم د دې نيکۍ د دعوت په نتيجه کښې ډيرو بني اِسرائيلو کلمه هم ولوستله، د صحابيت درجې ته هم ورسيدل او ډيرو د کُفر لار هم اِختيار کړه- مونږ به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! يو يو، دوه دوه دا آيتونه اوررو او د دې نه چې مونږ ته کوم سبقونه ميلاؤيږي، د هغې د زده کولو کوشش به کوو، راځئ چې نن د وړومبۍ سيپارې، د سُورۀ بقره آيت: 40 واورو او په دې د ځان پوهه کولو کوشش اوکړو:

## د آيت مبارک مختصر وضاحت

الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ (پاره: 1، سورۀ البقرة: 40) | [مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: اے د يعقوب اولاده! |

*_*_*_*_*

| | |
|---|---|
| اُذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ (پاره: 1، سورۀ البقرة: 40) | [مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: ياد کړئ زما هغه اِحسان چې ما په تاسو کړے دے- |

يعنې هغه نِعمتونه کوم چې په تاسو باندې، ستاسو په پلار نيکونو باندې وشول، مثلاً ❀ تاسو ته په ټوله زمانه باندې فضيلت درکړے شو ❀ ستاسو د نجات د پاره فرعون غرق کړے شو ❀ ستاسو د پاره په درياب نيل کښې 11 لارې جوړې کړے شوې ❀ ستاسو د پاره د اسمان نه من او سلوئ نازله کړے شوه ❀ ستاسو ګناهونه وبخښلے شول ❀ ستاسو د پاره انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام راوليږلے شول ❀ کتابونه نازل کړے شول

❁ تاسو ته بادشاهي عطا کړے شوې ❁ تاسو عروج ته ورسولے شوئ ❁ تاسو د زماني پیشوایان جوړ کړے شوئ، وغیره په زرګونو اِنعامونه دي، کوم چې د ټول اِنسانیت نه جُدا خاص په تاسو باندې وشول، دا ټول اِنعامونه یاد کړئ! [1]

د دې په یادولو بیا څهٔ کول دي؟ فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اَوْفُوْا بِعَهْدِیْۤ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ ۚ (پاره: 1، سورۃالبقرۃ: 40) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او زما وعده پوره کړئ زهٔ به ستاسو وعده پوره کړم۔ |

یعنې هغه وعده کومه چې ستاسو نه واخستے شوه، هغه تاسو پوره کړئ، د دې په بدله کښې به هغه وعده کومه چې مونږ ستاسو سره اوکړه، مونږ به هغه پوره کړو۔ د دې وعدې نه کومه وعده مُراد ده؟ په دې باره کښې **د مفسرینِ کرامو مختلف اقوال دي:**

**(1): ځینو فرمائیلي دي** چې د بنی اِسرائیلو نه وعده واخستے شوه چې کله مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړي نو تاسو به د هغوئي کلمه لولئ، ځکه وفرمائیلے شو چې تاسو زمونږ د محبوب کلمه ولولئ! مونږ به تاسو ته په دُنیا او په اخرت کښې اوچت شان عطا کړو [2] **(2): په ځینو روایتونو کښې دي:** د دې معنیٰ ده چې تاسو د اللّٰه پاک تابعداري اوکړئ! اللّٰه پاک به تاسو ته جَنَّت در عطا کړي۔ [3]

| | |
|---|---|
| وَ اِیَّایَ فَارْهَبُوْنِ ۝۴۰ (پاره: 1، سورۃالبقرۃ: 40) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او صرف زما نه ویریږئ۔ |

او ستاسو سره چې د خپل امدن د بندیدو کومه ویره ده، هغه د زړهٔ نه اوباسئ۔ صرف هم زمونږ نه ویریږئ که تاسو ایمان راوړو نو وګورئ چې ❁ ستاسو په عزت او وقار ❁ په

---

[1] ... تفسیر طبری، پاره: 1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت: 40، جلد: 1، صفحه: 287، رقم: 801 تا 804 ملتقطًا۔

[2] ... تفسیر بغوی، پاره: 1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت: 40، جلد: 1، صفحه: 41 خلاصةً۔

[3] ... تفسیرطبری، پاره: 1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت: 40، جلد: 1، صفحه: 288، رقم: 807۔

مال او دولت وغیره کښې به ترقي کيږي- [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د آیت نه میلاؤیدونکي سبقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** یو څو اهم سبقونه کوم چې د دې آیت مبارک نه مونږ ته د زدکړې د پاره میلاؤ شول:

### (1): د پوهه کولو ښکلے انداز

وړومبے سبق دا دے چې کله څوک پوهه کول وي، د نیکۍ دعوت ورکول وي نو د هغې د پاره الفاظ ښائسته اِستعمالول پکار دي، وګورئ چې دا غیر مسلمه پهٔ **اے بني اِسرائیلو!** وئیلو سره مخاطب کړے شول- علمائے کرام فرمائي: د حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام والِد حضرت اِسحاق عَلَيْهِ السَّلَام کوم چې نبي وو، یو ځل هغوئي تنهایۍ ته تشریف یوړلو او د کمرې پهٔ دروازه کښې یې خپل ځوي حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام ودرولو او وه یې فرمائیل: څوک هم زما خوا ته مهٔ راپرېږده- حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ دروازه کښې ولاړ وو، پهٔ دې کښې یوه فرښته پهٔ اِنساني شکل کښې حاضره شوه، حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام وه نهٔ پیژندله چې دا فرښته ده، نو هغوئي هغه د دننه تللو نه منع کړه، فرښتے لږ زور راوړو، حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام نوره هم منع کړه، د دې دواړو حضراتو چې اواز لږ شان تیز شو نو حضرت اِسحاق عَلَيْهِ السَّلَام پخپله بهر تشریف راوړلو او وه یې فرمائیل: ځویه! دا فرښته ده، دا دننه راپرېږده!

فرښته دننه لاړه، هغه وخت فرښتے ووئیل: ډیر تابعدار شهزاده دے او هغوئي له یې د اِسرائیل لقب ورکړو- [2] **د اِسرائیل معنیٰ ده:** د اللّٰه پاک تابعدار بنده- ځکه دغه غیر

[1]… تفسیر نعیمی، پاره:1، سورۂ بقرة، زیر آیت:40، جلد:1، صفحه:327۔

[2]… تفسیر نعیمی، پاره:1، سورۂ بقرة، زیر آیت:40، جلد:1، صفحه:324۔

مسلمو ته په اے بني اِسرائيلو سره اواز اوکړے شو، يعني اے هُغه خلقو! د کومو والِد چې تابعدار وو، تاسو هم د خپل والِد په طريقه باندې لاړ شئ او د الله پاک تابعدار جوړ شئ! (1)

دا يو ښکلے خطاب دے، په دې کښې دا سبق دے چې کله څوک پوهه کول وي نو په داسې ښکلي، ښائسته او ترغيبي الفاظو سره دې پوهه کړے شي، ظاهره ده چې کله مونږ چا ته ❀ اے بيوقوفه! ❀ اے د ګنهګار ځويه! ❀ ستا پلار هم داسې وو وغيره وايو نو مخامخ ګس به هډو پوهيږي نۀ، اُلټا به ضدي شي- لهذا د پوهه کولو په وخت ښه ښه الفاظ اِستعمالوئ، مثلاً تاسو خو ډير ښه يــۍ، مَاشَآءَالله! ستاسو بابا به فلانکـې نيکي کوله، په تاسو کښې هم دا دا خوبيانې دي، نـمونځ هم کوئ! دې ته سينډوچ ميتهډ (**_Sandwich Method_**) وئيلے شي، يعني د پوهه کولو شروع د مخامخ ګس د خوبيانو نه اوکړئ، ختمول يــې هم په خوبيانو باندې اوکړئ، په مينځ کښې د هُغه خبرې ذِکر اوکړئ، کومه چې په هغۀ کښې خرابي وي- د دې سره به اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د پوهه کولو فائده زياته شي-

## (2): نِعمتونه ياد کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک بني اِسرائيلو ته وفرمائيل:

| | |
|---|---|
| اُذْكُرُوْا نِعْمَتِیَ الَّتِیْۤ اَنْعَمْتُ عَلَیْكُمْ (پاره: 1، سورۀ البقرة: 40) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ياد کړئ زما هُغه اِحسان چې ما په تاسو کړے دے- |

د دې نه معلومه شوه چې د نِعمتونو يادول په زړۀ کښې تابعداري زياتوي، ځکه بني اِسرائيلو ته ووئيلے شو چې کوم نِعمتونه په تاسو باندې وشول، هغه رایاد کړئ! او د هغې په ذريعه باندې د الله پاک تابعدار جوړ شئ---!!

1... تفسير روح المعاني، پاره: 1، سورۀ بقرة، زير آيت: 40، جلد: 1، صفحه: 327 خلاصةً-

## د نِعمت يادول عِبادت دے

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په دې ځائے کښې فرمائيلي دي: ❁ د رَبّ نِعمت ❁ خپل ګناهونه او ❁ د نورو ښه سلوک ياد ساتل، يادول عِبادت دے، دغه شان ❁ د رَبّ اِمتحانونه ❁ خپلې نيکئ او ❁ د نورو خراب سلوک هيرول عِبادت دے۔ [(1)]

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلې خبره ده خو افسوس چې دلته د دې اُلټا رواج دے، د رَبّ نِعمت ياد ساتل او اِمتحانونه هيرول عِبادت دے ❁ مونږ اِمتحانونه، ازميښتونه ياد ساتو او نِعمتونه هيروو ❁ چې اِنسان بيمار شي نو هغه بيمارې ياده وي خو صحت مندي نۀ ياديږي ❁ چې يو وخت خوراک ميلاؤ نۀ شي نو هغه وخت ډير ياد پاتې کيږي خو د ژوند په سوونو خوراکونه ميلاؤيدل، هغه نۀ ياديږي۔

## د صحت پټئ

يو ځل چا په سر باندې پټئ تړلې وه، حضرت رابعه بصريه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهَا چې وليدله نو پوښتنه يــې اوکړه: څۀ شوي دي؟ پټئ دې ولې تړلې ده؟ هغې ووئيل: په سر باندې مې سخت درد دے، ځکه مې پټئ تړلې ده۔ وه يــې فرمائيل: دومره موده صحت مند وې، د هغې خو دې پټئ نۀ وه تړلې، يوه ورځ درد شو نو پټئ دې وتړله۔ [(2)]

چې درد وي نو پټئ تړل بالکل جائز ده بلکې د سرکارِ عالي وقار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه هم د سر تړل ثابت دي، [(3)] حضرت رابعه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهَا د رابيدارولو د پاره وفرمائيل چې لکه څنګه په پټئ تړلو د خپل درد اِظهار کوې، دغه شان چې څومره ورځې صحت مند وې،

---

[1]... تفسير نعيمي، پاره:1، سورۀ بقرة، زير آيت:40، جلد:1، صفحه:325 ملتقطًا۔

[2]... تذكرة الاولياء، جلد:1، باب ہشم، ذكر رابعه رَحمةُ اللهِ عَلَيۡه، صفحه:72۔

[3]... مُصَنَّفُ اِبۡنِ اَبِیۡ شَيۡبَه، كتاب المغازى، ما جاء فى وفاة النبى، جلد:8، صفحه:568، حديث:17۔

په هغې باندې هم شُکر کول پکار دي-
غرض دا چې مونږ ته درد یاد وي، سکون رانه هیر شي، ازمیښت یاد وي، نِعمت رانه هیریږي، دا اُلټا خبره ده، نیکي دا ده چې مونږ نِعمت یاد وساتو او ازمیښت هیر کړو- دغه شان خپل ګناهونه یاد ساتل او نیکۍ هیرول عِبادت دے، دلته هم زمونږ رواج اُلټا دے، خلق نیکۍ یادې ساتي او ګناهونه هیروي ❀ یوه ورځ کړي تهجد یاد وي خو 50 ورځې قضا کړے شوي نـمونځونه نهٔ یادیږي ❀ ځینې خلق ډیر پهٔ فخر سره وائي چې دا ځل ما د رَمَضَانُ الْمُبَارَک 10 روژې ونیولې، خوک دې دوئي ته ووائي چې وروره! تاسو 19 یا 20 روژې قضا کړې دي! ❀ پهٔ جومات کښې ورکړے شوې 10 روپۍ یادې وي خو پهٔ تجارت کښې پهٔ دوکه ګټلے شوې زر [1000] روپۍ هیرې وي ❀ دغه شان د خلقو ښه سلوک یاد ساتل او خراب سلوک هیرول عِبادت دے خو دلته خراب سلوک یاد ساتلے شي او ښه سلوک هیرولے شي- یعنې مونږ اُلټا روان یو، د کوم څیز یاد ساتل چې عِبادت دے، مونږ هغه هیروو او د کومو خبرو هیرول چې عِبادت دے نو مونږ هغه یادې ساتو- الله پاک دې مونږ ته هدایت اوکړي- د نِعمتونو د یادولو عادت جوړ کړئ!

## پهٔ سکون سره د ژوند تیرولو نُسخه

دا پهٔ سکون سره د ژوند د تیرولو ډیره اهمه نُسخه ده- د نفسیاتو پوهان وائي چې هر یو کَس له پکار دي چې د ځان سره د موجودو نِعمتونو د لِسټ جوړولو عادت جوړ کړي- یعنې کاغذ قلم راواخلي او ولیکي چې ما له الله پاک څهٔ څهٔ راکړي دي ❀ الله پاک لاسونه راکړي دي! ❀ غوږونه یـې راکړي دي! ❀ سترګې ❀ پوزه ❀ ژبه ❀ ښپې یـې راکړي دي ❀ ویښتهٔ یـې راعطا کړي دي ❀ بیا د وجود دننه اندامونه دي ❀ د اوسیدو د پاره یـې کور راکړے دے ❀ د ګرځیدو د پاره یـې زمکه راکړې ده ❀ بره پاس اسمان میلاؤ شوے دے ❀ زمونږ د پاره میوې ❀ ګلونه ❀ سبزیانې راټوکوي ❀ وریځې

راځي ❁ بارانونه کيږي ❁ يخني ګرمي نصيب کيږي ❁ پۀ کروړونو نِعمتونه دي ❁ مونږ چې د شميرلو د پاره کښينو نو شميرلے يـې نشو، د دې نِعمتونو لِسټ جوړ کړئ ❁ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د کمترئ د اِحساس نه به نجات حاصل شي، مونږ چې نورو ته پۀ کتو کتو مايوسه کيږو چې فلانکي ته دا ميلاؤ شو، هٰغه ميلاؤ شو، زۀ خوار خو محرومه پاتې شوم، زما خو قِسمت خراب دے وغيره، داسې چې کومې ګيلې کوو، د هغې نه به نجات حاصل شي ❁ د حَسَد نه د بچ کيدو هم بهترينه طريقه دا ده چې د ځان سره موجود نِعمتونه ياد کړئ! نورو ته ميلاؤ شوو نِعمتونو ته به د لالچ پۀ نظر د کتلو حاجت نۀ پيښيږي ❁ دغه شان خپل نِعمتونه يادول زړۀ تابعداره جوړوي ❁ تاسو چرته د ميلاؤ شوو نِعمتونو لِسټ جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د زړۀ نه به مو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ووځي ❁ پۀ زړۀ کښې به د الله پاک محبت زياتيږي، تجربه پرې اوکړئ او وګورئ! يوه ورځ د نِعمتونو لِسټ جوړ کړئ! پۀ هٰغه ورځ چې به کومه سجده کوئ نو د هغې مزه به هم جُدا وي-

غرض دا چې دا ډير اهم کار دے کوم چې مونږ له کله نا کله کول پکار دي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پۀ زړۀ کښې به د الله پاک محبت زياتيږي او پۀ دُنيا او پۀ اخرت کښې به کاميابي نصيب کيږي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (3): وعده پوره کړئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د وړومبۍ سيپارې، د سورۀ بقره د آيت: 40 نه دريم او ډير اهم سبق کوم چې مونږ ته د زدکړې د پاره ميلاؤ شو، هغه دا چې الله پاک بني اِسرائيلو ته وفرمائيل:

وَ اَوْفُوْا بِعَهْدِیْۤ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْۚ
(پارہ: 1، سورۃ البقرۃ: 40)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او زما وعده پوره کړئ زۀ به ستاسو وعده پوره کړم-

يعني اے بني اِسرائيلو! تاسو زما تابعداري اوکړئ! زۀ به ستاسو نه راضي شم او تاسو به جَنَّت ته داخِل کړم- (1)

مثلاً ❁ مونږ ته د نـمونځ حُکم راکړے شو ❁ روژې راباندې فرض کړے شوې ❁ د حج، زکوٰۃ حُکم راکړے شو ❁ د عِبادت او رياضت حُکم راکړے شو ❁ د مدينے د سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو اِختيارولو سبق راکړے شو ❁ د مور او پلار د خِدمت، د ګاؤنډيانو سره د ښه سلوک ❁ د خپلوانو سره د ښيګړې وغيره د سوونو نيکو حُکم راکړے شو، دا ټولې د اللّٰه پاک وعدې دي، دا پوره کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پۀ دُنيا کښې به رزق، برکت، سکون، اطمينان، کاميابي، عروج او پۀ اخرت کښې به جَنَّت ته داخليدل نصيب شي-

## زما ذمه واري نـمونځ کول دي

وئيلے کيږي چې يو نيک اِنسان وو ډير غريب وو، د ماسخوتن د نـمونځ نه چې فارِغ شو او کور ته راغلو نو وه يې کتل چې بچي يې اوږۀ شوي دي- هغه د کور وداني نه پوښتنه اوکړه چې آيا ماشومانو د ماسخوتن نـمونځ کړے دے---؟ کور وداني يې ووئيل: نا- پۀ کور کښې خوراک نۀ وو، ماشومانو د لوږې نه ژړل، ځکه ما هغوئي پۀ هسې غولولو اوږۀ کړل- هُغه نيک اِنسان ووئيل: هغوئي راپاڅوه! او د ماسخوتن نـمونځ پرې اوکړه! کور وداني يې د منت پۀ لـهجه کښې ووئيل: ماشومان وږي دي، پۀ کور کښې د خوراک د پاره څۀ نشته، که راپاڅيدل نو بيا به خوراک غواړي، د لوږې نه به ژاړي- ځکه هغوئي اوږۀ کيدو

---

1 ... تفسير طبری، پاره: 1، سورۀ بقرة، زير آيت: 40، جلد: 1، صفحه: 289، رقم: 809۔

ته پرېږده! خاؤند يـې پۀ اِيماني جذبه کښې ووئيل: زما کار دوئي له ډوډۍ ورکول نۀ دي بلکې نـمونځ پرې کول دي- زۀ به خپل کار کووم- د زرق ذمه واري الله پاک اخستې ده- پۀ دې وئيلو سره هُغه نيک اِنسان ماشومان راپاخول او هغوئي يـې پۀ مصله باندې ودرول- لا ماشومانو نـمونځ کولو چې دروازه وډبولے شوه، بهر يو ګس پۀ لوئي شان تالي (***Tray***) کښې ډير قِسمه خوراک راوړے وو او ولاړ وو- هغه هُغه تالے هُغه نيک اِنسان له ورکړو او لاړو-

سُبْحٰنَ الله! دا دے د توکل برکت--!! د رزق ذمه واري الله پاک اخستې ده، هغه به مونږ ورې پاتې کيدو ته نۀ پرېږدي خو چې مونږ پۀ مناسبه توګه حلال رزق وګټو، باقي معامله الله پاک ته وسپارو- پۀ اصل کښې چې مونږ ته د څۀ فِکر کول دي هغه د نيک کارونو فِکر دے، جَنَّت ته د تللو او د دوزخ نه د بچ کيدو فِکر دے- دا زمونږ پۀ ذمه دے، مونږ له دې ته زيات پام کول پکار دي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## وړومبے دُنيا که وړومبے دِين---؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ ته معلومه ده چې پۀ نيکۍ کښې سکون دے، اطمينان دے، برکت دے، رحمت دے، د رَبّ رضا ده، د دې باوجود مونږ د نيکۍ طرف ته نۀ وړاندې کيږو، تاسو ته معلومه ده چې د دې څۀ وجه ده؟ زمونږ پۀ نظر کښې د دُنيا اهميت زيات دے- يعنې مونږ دُنيا وړومبے او اخرت وروستو ساتو، مثلاً کار له لازمي تلل دي، که وخت ميلاؤ شو نو نـمونځ به هم اوکړو، ګني (مَعَاذَالله!) قضا به يـې کړو- يعنې خلق د اخرت پۀ معاملو کښې جوړ جاړے [يعنې سمجهوته] کوي خو د دُنيا پۀ معامله کښې يـې نۀ کوي- چې د دُنيا خبره وي نو مونږ نن او هم اوس تيار يو، که د اخرت خبره

وي، د نيکئ خبره وي، د نـمونځ، روژې خبره وي نو--- د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مياشت نه به يـې شروع کړو، د سبا نه به نـمونځونه شروع کوم، دا چې زمونږه کومه رويه ده، دا غلطه ده- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا ﴿۱۶﴾ وَالْاٰخِرَةُ خَیْرٌ وَّاَبْقٰی ﴿۱۷﴾

(پارہ:30، سورۃ الاعلیٰ:16-17)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان:

بلکې تاسو دنيائي ژوند ته ترجيح ورکوئ او اخرت بهتر او باقي پاتې کيدونکے دے-

د دې اُلټا کول زده کړئ! اخرت وړومبے او دُنيا وروستو ساتل شروع کړئ او بيا وګورئ! ژوند به مو ټيک شي- **د حديثِ پاک خُلاصه ده:** الله پاک د اخرت طلبګار ته دُنيا خو عطا کوي خو د دُنيا طلبګار ته اخرت نهٔ عطا کوي- [(1)] ځکه مونږ له پکار دي چې د اخرت طلبګاران جوړ شو، که دُنيا مو په قِسمت کښې وي نو هم پخپله به ميلاؤيږي-

## د توبې ذِهن څنګ جوړ شو---؟

يو بزرګ وو، د هغوئي نه چا پوښتنه اوکړه: عالي جاه! ستاسو د توبه کولو او د الله پاک د عِبادت طرف ته د راتللو ذِهن څنګه جوړ شو؟ هغوئي خپله واقعه بيان کړه، وه يـې فرمائيل: زهٔ جرنده ګرے ووم (يعني په جرنده به مې داني وړه کولې)- په کلي کښې اوسيدم، د جُمعې د نـمونځ د پاره به لرې د ښار لوئي جومات ته تلل وو، يو ځل د زيارت او د جُمعې ترمينځه شپه وه، زما سره عجيبه معامله وشوه ❀ زما يو پټے وو هغه اوبهٔ کول وو ❀ په جرنده کښې داني هم پرتې وې، هغه وړهٔ کول وو ❀ ما يو خر ساتلے وو، هغه ناڅاپه رسئ پرانسته او وتښتيدو- بيا ډيره پريشاني شوه، زهٔ يواځې ګس ❀ که پټے اوبهٔ کووم نو نهٔ به خَر ميلاؤيږي او نه به داني وړهٔ کيږي ❀ که داني وړهٔ کووم نو نهٔ به خر

[1]... الزہد لابن المبارک، الجزء الرابع، باب ھوان الدنیا علی اللہ عزوجل، صفحہ:186، حدیث:549 خلاصۃً-

میلاؤیږي او نۀ به پتې اوبۀ کیږي ❀ که خر لتړووم نو نۀ به پتې اوبۀ کیږي او نه به داني وړۀ کیږي، غرض دا چې ما ته د 2 نقصانونو سره پۀ هر حالت کښې مخ کیدل وو- ډیر پریشانه ووم، پۀ سوچونو سوچونو مې دماغ ستړي شو، اخر ما پۀ زړۀ کښې ووئیل چې هر څۀ پریږده! څه چې د جُمعې د نـمونځ د پاره لاړ شم- نو ما د جُمعې د نـمونځ تیاري اوکړه او د ښار طرف ته روان شوم- لوئي جومات ته لاړم او ښه پۀ ارام مې د جُمعې نـمونځ ادا کړو، بیا د کور طرف ته واپس را روان ووم، کله چې د خپل پټي پۀ خوا راتیریدم نو وه مې کتل چې زما پټے اوبۀ شوے دے، ډیر حیران شوم، د چا نه مې پوښتنه اوکړه چې زما پټے چا اوبۀ کړو؟ هغه ووئیل: ستا ګاؤنډي خپل پټے اوبۀ کولو، شپه وه خوب ورتللو، ځکه یـې پۀ غلطۍ کښې هم ستا پټے اوبۀ کړو، بیا چې ورته کله احساس وشو نو بیا یـې خپل پټے اوبۀ کړو- وائي چې ما د الله پاک شُکر ادا کړو او د کور طرف ته را روان شوم، څنګه چې مې دروازه پرانسته نو وه مې کتل چې زما خَر پۀ کور کښې تړلے شوے دے، ما پۀ حیرانتیا سره پوښتنه اوکړه چې دا چا راوستو؟ کور والؤ راته ووئیل چې دا د ځنګل طرف ته تللے وو، مخامخ یـې ازمرے ولیدو، د هغۀ نه ویریدو او پۀ منډه هم پخپله کور ته واپس راغلو- بیا چې زۀ کور ته دننه لاړم نو وه مې کتل چې زما داني وړۀ شوي دي- بیا حیران شوم، د کور والؤ نه مې پوښتنه اوکړه چې دا داني چا وړۀ کړې دي؟ وه یـې وئیل: ګاؤنډې خپلې داني وړۀ کول غوښتل خو پۀ غلطۍ کښې هغه زمونږ داني وړۀ کړې، کله چې هغه ته معلومه شوه نو زمونږ وړۀ یـې مونږ له راکړل او خپلې داني یـې بیا وړۀ کړې- پۀ دې واقعه لیدلو ما پۀ زړۀ ګزار وخوړو چې چرته خو دا حالت وو چې زۀ د 2 نقصانونو سره مخ کیدم او چرته دا حالت دے چې زما ټول کارونه هم پخپله شوي دي- بس هم د هغې ورځې نه ما توبه کړه او نیک کارونو له مې ترجیح ورکول شروع کړل- (1)

---

[1]... تبصرة الغافل، الباب الثالث عشر فی علامة السعادة ...الخ، صفحه:290۔

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے---!!

| | |
|---|---|
| کیوں کرنہ میرے کام بنیں غیب سے حسنؔ | بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کارساز کا[1] |

وضاحت: اے حَسنهؔ! زما کارونه به غيبي ولې نهٔ کيږي؟ زما مشکلات به ولې نهٔ حل کيږي؟ وګوره چې زهٔ بنده د کوم لوئي کار ساز يعني د الله رَبُّ الْعٰلَمِين يم---!!

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا حقيقت دے چې مونږ اخرت ته پهٔ دُنيا باندې ترجيح ورکول شروع کړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! زمونږ هُغه کارونه کوم چې د کلونو راسې انښتي دي، پهٔ سوونو خواهشات دي، کوم چې هډو پوره کيږي نهٔ، مونږ ډير ارمانونه لرو، دا هم کول دي، هُغه هم کول دي، چې مونږ د اخرت طلبګاران جوړ شو، که الله پاک وغوښتل نو دُنيا به مو هم ښه شي، بندې دروازې به هم پرانستے شي، نيمګړي ارمانونه به هم پوره شي او اخرت به مو هم ښه شي-

## د بيان خُلاصه

د بيان خُلاصه دا ده چې الله پاک بني اِسرائيلو ته وفرمائيل:

| | |
|---|---|
| يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَ اَوْفُوْا بِعَهْدِيْٓ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ ۚ وَ اِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ۝ (پاره: 1، سورة البقرة: 40) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے د يعقوب اولاده! ياد کړئ زما هُغه اِحسان چې ما پهٔ تاسو کړے دے او زما وعده پوره کړئ زهٔ به ستاسو وعده پوره کړم او صرف زما نه ويريږئ- |

پهٔ دې کښې زمونږ د پاره دا درې سبقونه دي: (1): چې کله هم څوک پوهه کول وي، د نيکۍ دعوت ورکول وي نو د هغې د پاره د ښه ښه، د ښکلو ښکلو ترغيب والا، پهٔ

[1] ... ذوقِ نعت، صفحه: 18-

نیکۍ باندې د راپارونکو الفاظو انتخاب اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پوهه کول به فائده اوکړي- که سخته لـهجه ، تراخه الفاظ، د رټلو والا رویه اختیار کړې نو که مخامخ کَس ټیک کیږي او که نۀ ټیک کیږي، البته د ضدي کیدو امکانونه به زیات شي (2): دویم سبق دا میلاؤ شو چې مونږ ته د الله پاک راکړے شوي نِعمتونه یادول پکار دي بلکې که کیدے شي نو وخت په وخت د نِعمتونو لسټ جوړ کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ❀ د ډیرو نفسیاتي مسئلو نه به نجات میلاؤ شي ❀ د ژوند ډیرې مسئلې به ختمې شي ❀ زړۀ ته به سکون میلاؤ شي او ❀ که الله پاک وغوښتل نو د الله پاک محبت به نصیب شي (3): دریم سبق دا میلاؤ شو چې د الله پاک وعده پوره کړئ! یعني نیک کارونه اوکړئ! د الله او د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تابعداري اِختیار کړئ! الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي- اخرت له په دُنیا باندې ترجیح ورکړئ! په نیک کارونو کښې مصروف شئ، دُنیا به مو هم اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ټیک شي او اخرت به مو هم بهتر شي- الله پاک دې مونږ ته د دې دریو واړو کارونو د کولو، په قرآن او سُنَّت باندې په صحیح معنو کښې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## بهارِ شریعت موبائل ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي د جدید ټیکنالوجۍ په ذریعه هم په مختلف انداز کښې د نیکۍ د دعوت په عام کولو کښې مصروف دے، دې لړ کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا ډیر ښکلے، ځانګړے او ډیر فائده مند موبائل ایپلي کیشن د بهارِ شریعت ***(Bahar e shariyat)*** په نوم جاري کړے شوے دے ❀ د مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د ډیر اعلیٰ کتاب بهارِ شریعت درې واړه جلدونه په دې ایپلي کیشن کښې شامل کړے شوي دي ❀ د دې نه علاوه په بهارِ

شريعت کښې شامل د قرآنِ پاک آيتونه، حديثونه، اصطلاحات او لغت د دې ايپلي کيشن حصه ده ❀ تاسو په ايپلي کيشن کښې متن هم لټولے شئ ❀ د سرچ نور ښۀ کولو د پاره په دې کښې د اُردو د کي بورډ سهولت هم موجود دے د پاره د دې چې په ايپلي کيشن کښې په لټون کښې اساني وي-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

د بيان په اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په کوته کول)

**مسئله:** د جُمعې په ورځ غُسل کول سُنَّت دي-

**وضاحت:** دلته ځينې خلق دا ګڼي چې که چا د جُمعې په ورځ غُسل اونکړو نو د جُمعې نـمونځ به يـې نۀ کيږي- **په اصل کښې مسئله دا ده:** چا چې د جُمعې په ورځ غُسل اونکړو صرف اودس يـې اوکړو او د جُمعې نـمونځ يـې ادا کړو نو د هغۀ نـمونځ وشو- البته که په چا باندې غُسل فرض وي نو د غُسل کولو نه بغير نـمونځ نشي کولے که وه يـې کړو نو نـمونځ به يـې نۀ کيږي-[1] په دُرِّمُختَار کښې دي چې د جُمعې او د اختر د نـمونځ د پاره غُسل سُنَّت دے-[2] خو ياد ساتئ---!! د جُمعې د نـمونځ د پاره د غُسل کوونکي فضيلت ډير زيات دے، روايت دے چې د جُمعې غُسل د ويښتو د جرړو نه خطاګاني راښکي-[3]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو

---

[1]... دارالافتاء اہل سنت، ریفرنس نمبر: WAT2380 ـ

[2]... ردالمحتار علی الدر المختار، جلد: 1، صفحه: 168ـ

[3]... معجمِ کبیر، جلد: 4، صفحه: 352، حدیث: 7923ـ

توفيق راعطا کړي- اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنىٰ برکتونه (وظيفه)

### اَلۡبَاطِنُ

خوک چې چا ته امانت وسپاري يا يـې پۀ زمکه کښې ښخ کړي نو اَلۡبَاطِنُ دې وليکي او د هٔغه څيز سره دې يـې کيږدي اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيم! خوک به هم پۀ هغې کښې خيانت نشي کولے- [1]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] … مدنی پنج سورہ، صفحه:256۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمعې او زیارت په مینځنی شپه باندې) دا دُرُود شریف په پابندیٔ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د مدینے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې د مدینے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. (1) راځئ چې مونږ هم په شریکه دا دُرُود ووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې مدینے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. (2) راځئ چې مونږ هم په شریکه دا دُرُود ووائیو.

---

[1] ...اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه: 151، خلاصةً۔

[2] ...اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه: 65۔

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي پهٔ هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لا که دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې پهٔ شريکه يـې ووائيو.

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَهٗ

يوه ورځ يو کَس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ تر مينځه کښينولو، پهٔ دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دے چې کله پهٔ ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې يـې لوَلي.[3] راځئ چې مونږ يـې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

---

[1]… قَوْلُ البَدِيْع، باب ثانی، صفحه:277۔

[2]… اَفْضَلُ الصلاة، صفحه:149۔

[3]… قَوْلُ البَدِيْع، باب اَوّل، صفحه:125۔

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف ولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي. [1] راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شريکه ووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر [1000] ورځو نيکۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُما نه رِوايت دے چې مدينے سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيکۍ ليکي. [2] راځئ چې مونږ يې هُم پۀ شريکه ووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغه چې شبِ قدر حاصل کړو- [3] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پۀ شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي الله پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، الله پاک دے، د اووۀ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كِتَابُ الذِّكْر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30-

2... مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305-

3... تاريخ ابنِ عساكر، 155/19، حديث:4415